۲- جامع مسلم شریف :

دا کتاب هـــم داحادیثو د شپزو مشهورو کتابونو له جملې څخه دی چې تر بخاري وروسته د احادیثو دویم معتبر او مشهور کتاب دی .

هغه احادیث چې په بخاري او مسلم دواړو کښې راغلي اوعین شی وي د متفق علیه په نامه یاد ېږي .

د غه کتاب مســلم د حجاج زوی لیکلی دی . امام مسلم د قشیرې په نامه د عـرب و دیوې مشهورې قبیلې څخه و .

امام مسلم داحادیثو پیاوړی حافظ ، هوښیار عالم او پرهـــیزګار شخص و . نومورې وایئ چې ما دا کتاب د درې لکو احادیثو څخه انتخاب کړ .

د د غه کتاب احادیث غیر مکرر (بلا بېل) دي او تقریباً څلور زره ته رسیږي . مسلم د امام شافعي د وفات ېدو په کال

یعنی په ۲۰۴ هـ.ق کال زېږیدلی اوپه نیشاپور کښې په (۲۶۱) هـ ، ق کال وفات شوی دی.

۳- جامع ترمذي :

دا هـم داحادیثو دشپږو صحیحوکتابونو دجملې څخه یوکتاب دی چه دځینو علماؤ له نظره دریمه مرتبه اودځینو له نظره څلورمه مرتبه لري .

په دغه کتاب کښې دځلور واړو مذهبونو بیان اوتشریح شویده . داکتاب امام ترمذي لیکلی دی چه خپل نوم ئې محمد اودپلار نوم ئې عیسی دی .

امام ترمذي په (۲۰۹) هـ ، ق کال زېږیدلی اوپه (۲۷۹) هـ،ق کال په ترمذ کښې د(۷۰) کالوپه عمر وفات شوی دی .

امام ترمذي د ترمذ[1] په بنار کښې اوسیده چه زمونږ د هېواد

۱- ترمذ دشوروی ترسلطې لاندې دازبکستان دجمهوریت دیو بنار نوم دی.

د بلخ د ولایت ترځنګ د ماوراءالنهر په هاخوا رشمال کښې پروت دی .

استاذان یې امام بخاريؒ ، قتیبهؒ دسعید زوی ، محمود د غیلان زوی او محمد د بشار زوی او داسې نورو اوله ده څخه هم ډیرو شاګردانو زده کړې ده .

امام ترمذي برسېره پرجامع ترمذي نورتالیفات هم لري . امام بخاريؒ چې د ترمذيؒ استاذ دی دده په هکله داسې وایي : ماله تا څخه دومره زیاته فایده واخیسته چې تا به له ما څخه هومره احتیتی نه وي له دې ډیر ښه حقیقت څخه څرګندېږي چې امام ترمذي ډیر پوه عالم ، پرهیزګار او د ښه یادداشت څښتن وؤ .

۴ـ ابوداؤد شریف :

د حدیثو د شپږو صحیحو کتابونو څخه څلورم کتاب ابوداؤد شریف دی چې د ځینو علماؤ په نزد په دریمه درجه کښې واقع دی . دا

کتاب د اشعث سجستاني[1] زوی لیکلی چې په ۲۰۲ هـ. ق کال - زېږېدلی دی. نوموړي په نبوی احادیثو کښې د تحقیق او غور کولو لپاره عراق، خراسان، شام (سوریه) مصر او نورو ډېرو هېوادونو ته سفرونه کړي دي.

ده دېرشو زرو (۳۰۰۰۰) حدیثونو څخه چې په یادولو یادوئ څلور زره (۴۰۰۰) حدیثونه انتخاب کړي او د ابوداؤد شریف په کتاب کښې یې لیکلي دي. کله چې نوموړي دا کتاب ولیکه نو امام احمد ته یې د ملاحظه کولو لپاره وړاندې کړ. د امام احمدؒ د هغه کتاب خوښ شو او ویې ستایه.

امام سلیمانؒ د خپلې زمانې له مشهورو عالمانو او مجتهدینو لکه امام بخاریؒ، امام مسلمؒ، احمد بن حنبلؒ، قتیبه بن سعیدؒ او نورو څخه نبوي احادیث زده کړل او خپله یې هم ډېر شاګردان وروزل.

امام سلیمانؒ ښه محقق او هوښیار عالم وؤ چې د احادیثو په سند ونو

۱- سجستان نن ورځ د سیستان په نامه یادیږي.

کښې ئې زیات تحقیق او دقت کاوه . امام ابوداؤد « سلیمان » په ۲۷۵ هـ، ق کال د ۷۳ کلونو په عمر په بصره کښې وفات شو .

۵- سنن نسائی :

دا هم د احادیثو د څپړنو صحیحو کتابونو څخه دی چه د روسته د ابو داؤد څخه د حدیثونو پنځم معتبر کتاب دی .

دا کتاب احمد د شعیب خراساني زوی لیکلی دی چه د پخوانی خراسان په یو بنار کښې چه نسا نومیده په ۲۵۱ هـ، ق کال کښې زیږیدلی. احمد یو پوه او پرهیزګار سړے ؤ چه په ۳۰۳ هـ، ق کال وفات شوی دی .

لومړی تألیف ئې سنن کبریٰ ؤ چه د سیې د امیر د امرسره سم ئې صحیح احادیث جدا کړل او د المجتبیٰ کتاب ئې ورځنې جوړ کړ . ترهغه وروسته ئې سنن نسائی د امام بخاري او مسلم په ترتیب تألیف کړ .

٦- سنن ابن ماجة :

داحادیثو شپږم مشهور کتاب ـ سنن ابن ماجه دی. چې په مرتبه کښې تر نورو پنځو کتابونو وروستی دی ، دغه کتاب امام محمد دیزید ربعی زوی لیکلی دی او ځینې علماء وایئ چه ماجة دده دمورنوم دی.

نومورے په (۲۰۹) هـ ، ق کال پیدا اوپه (۲۷۳) هـ ، ق کال وفات شوی دی. ټول عمرئې (٦٤) کاله ؤ. ذ احادیثو د طلب او زده کړې لپاره ئې ډیرو ځایونو لکه : عراق ، بصرې، کوفې، بغداد ، مکې ، شام، مصراو حجاز ته سفرونه کړي ؤ . د امام محمد داکتاب تقریباً څلور زره احادیث لري او د تفسیر او تاریخ ځینې تالیفات ئې هم کړي دي .

د وحي پيل

د مخه موو ويل چه وحي د حضرت محمّد صلی الله علیه وسلم څخه مخکې پخوانيو پيغمبرانو ته هم نازله شوې وه چه دلته مونږ يوا ځې پر حضرت محمّد (ص) د نازلې شوې وحي په باره کښې بحث کوو .

پر حضرت محمّد (ص) باندې لومړی وحي د حراء غار کښے نازله شوه . کله به چه حضرت محمّد (ص) په غار حرا کښې په عبادت بوخت وُ نودا فکر ورسره نه وُ چه خدای پاك به ورته وحي يا نور څه ورکړي ، بلکه تل به ئې د خدای تعالیٰ په مخلوقاتو او کائناتو کښې فکر کاوه .

يوه ورځ حضرت محمّد (ص) د معمول سره سم په غار حرا کښې په ناڅاپي ډول هکوري چه يوه پرېښته (جبرائيلؑ) راځي او ورته وايي : اِقْرَاْ يعنې ولوله . آنحضرت (ص) په ځواب کښې وائي : مَا اَنَا بِقَارِئٍ يعنې زه لوستونکی نه يم . د جبرائيلؑ

او آنحضرت (ص) ، دا سوال اوځواب درې ځلې وشوا و په دریم ځل حضرت محمد (ص) په غېږ کښې کلك نیسي ، ډېر زور ورکوي اوورته وایي :

(۱) اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۚ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۚ اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۙ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۙ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ یَعْلَمْ ؕ

ترجمه :

ولوله په نوم د پروردګار خپل ، هغه چې د هرشي پیدا کوونکی دی پیدا یې کړ انسان د یرن شوې وینې نه . ولوله اوستا پروردګار زیات سخي دی ، هغه چه انسان ته یې دقلم په واسطه علم زده کړ ، انسان ته یې هغه څه وښودل چه هیڅ پرې نه پوهیده .

حضرت محمد (ص) ، ددې پېښې د پېښیدو نه وروسته سمدستي خپل کورته راغې اوپه داسې حال کښې چه وجود مبارك یې لړزیده خپلې بی بی ، خدیجې بی بی ، ته یې د پېښې حال بیان کړ . ددې پېښې پېښیدل د حضرت پیغمبر (ص) ، د بعثت اووحې

۱- د علق سورة ۱-۵ آیتونه .

لومړی پیل ؤ چه ترهغې وروسته یئ اسلام ته د خلکو رابلل شروع کړل ، خپل نبوّت یئ ثابت کړ او ټول خلك یئ دیو خدائ بندګی اوعبادت کولوته راوبلل ، دا د پیغمبراکرمؐ دکوښښونو نتیجه ده چه نن ورځ دا اسلام دین ټوله نړۍ ړوښانه کړې ده اود آنحضرت ،ص، امّت به هم ترقیامتنه پورې دا دین چلوي .

دوحې ختم : حضرت محمّد،ص، څلویښت کلن ؤ چه لومړی وحې ورته راغله اوپیغمبر شو،اسلام ته یئ دخلکورابلل پیل کړل اوکه چاته ترې څه پوښتنه کوله دوحې له مخې یئ ورته ځواب ورکاوه . لکه څنګه چه په قرآن کریم کښې لوی خدائ هم ورته ځرګنده اشاره کړې چه : وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۝ ،۱،

یعنې پیغمبر له خپله ځانه نه غږیږي بلکه خبرې یئ پرته له ورته استول شوې وحې څخه نور څه نه دي .

۱- د نجم د سورة ،۲، آیت

حضرت محمد (ص) (۶۳) کاله ژوندی وُ . دپیغمبرۍ په (۲۳) کلونو کښې یې په پوره اخلاص اوایمان دارۍ سره خپل رسالت سرته ورسوه ، خلك یې دیوخدای عبادت ته راوبلل اوداسلام د خپرولوپه لارکښې یې هڅې ستونزې اوکړاوونه وکالل ، ترڅو خدای پاك ؒ وزنه وفرمایل : اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِی وَرَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْناً ٥ (۲)

ترجمه : نن ورځ مې تاسوته ستاسودین بشپړکړ . اوخپل نعمت اوپرزوینه مې پرتاسو پوره کړه اوداسلام دین مې درته غوره اوخوښ کړ .

ددې آیت ترنزول اوله فانې دنیا څخه پاڼبت لرونکې نړۍ ته دحضرت پیغمبر (ص) ترکوچیدلو وروسته دوحې راتلل هم ختم شول . ځکه چه حضرت محمد (ص) ترټولو پیغمبرانو وروستی اوغوره پیغمبردی چرله ده وروسته بل پیغمبر نه راځي .

قرآن کریم اواحادیث حضرت محمد (ص) ته د پاك خدای له خوا په

۲- دمایده سورۃ (۲) آیت .

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی فصل

وحي

وحي په لغت کښې پيغام او خبرته وائې . او په شرعي اصطلاح کښې دالله ﷻ کلام او حکم دی چې په پيغمبر باندې نازل شوی وي .

وحي د بندګانو سره دالله ﷻ رابطه ده چې الله ﷻ لومړی خپل اوامرو نواهي دهغې په واسطه خپل پيغمبرانو ته راستولي اوبيا ئې پيغمبر خپل امّت ته په خپلې ژبې سره بيان کړي اوخلك ئې د خداى تعالىٰ ﷻ ديووالي اودشريعت د

جلّی او خفی ډول ورکړ شوي. مونږ مسلمانان مکلّف یو چې د خدای تعالیٰ په دغو احکامو ایمان ولرو او عمل پرې وکړو.

تمرین

۱- د وحي لغوي او اصطلاحي معنٰی څه ده؟

۲- وحي په څو ډوله ده؟

۳- حدیث شریف تعریف کړئ؟

٤- د حدیث شریف ډولونه ووایاست؟

٥- دا حدیثو خو کتابونه دي او بخاري شریف یې څومره مرتبه لري؟

٦- دامام بخاري نوم څه وو؟

۷- دامام بخاري د زېږېدنې او وفات نېټه ووایئ؟

۸- لاندې خالي ځایونه په مناسبو الفاظو ډک کړئ.

۱- دامام مسلم ( ) نوم دی؟

۲- امام مسلم په ( ) ه. ق کال زېږېدلی دی او په ( ) وفات شوی دی؟

۳- دامام ترمذي نوم څه وو ؟

۴- امام ترمذي دچا شاګرد وو ؟

د لاندې جملې نیکمرغتیاوې پوره کړئ .

۵- امام ابوداؤد په ( ) کښې زېږېدلی دی اوپه ( ) کښې وفات شوی دی ؟

۶- امام احمد د شعیب خراساني روی کوم کتاب لیکلی دی ؟

د صحیح جواب څخه کرښه تاوه کړئ .

سنن ابن ماجه

الف : لومړئ درجه کښې واقع دی . ب : په څلورمه درجه کښې واقع دی . ج : په شپږمه درجه کښې واقع دی .

لومړی وحي په : الف : غار ثور کښې ، ب : په غار حرا کښې . په غار کهف کښې شروع شوه .

د وحي ختم په : الف : حضرت محمد (ص) ، ب : حضرت آدم (ع) ، ج : حضرت نوح (ع) ، شوې .

۱- د قرآن او حدیث په منځ کښې څه فرق دی ؟
۲- قرآن کریم په څوکالو کښې نازل شوی دی ؟

دویم فصل

د تلاوت سجدې :

قرآن کریم یو آسمانی کتاب دی چې په (۲۳) کلونو کښې د خدای تعالیٰ له خوا په حضرت محمّد (ص) نازل شوے دی . په دې سپځلي کتاب کښې د الٰهی توحید ، یووالي ، او د حضرت محمّد (ص) د پیغمبرۍ او رسالت ثبوت شته دی .

په قرآن کریم کښې د جنت او دوزخ بحث شوی او د قیامت د ورځې د اثبات دلیلونه پکښې راغلي دي . هرڅوك چې په قرآن مجید عمل وکړي او خپل ژوند د دغه سپځلي آسماني کتاب تر سیوري لاندې تیر کړي ، نو اړو مرو به یې د دنیا

او آخرت نیکمرغي په برخه شي.

د قرآن کریم تلاوت په نورو کتو برسیره، پر ثواب لري.

د قرآن کریم دیو حرف (تکي) په لوستلو خدای پاک انسان ته دلسو (۱۰) نیکیو ثواب ورکوي.

د قرآن عظیم الشان ځینې سورتونه (۱) مکي دي یعني په مکه کښې نازل شوي دي او ځینې نورې مدني دي چه په مدینه منوره کښې نازل شوي دي.

په ځینو سورتونو کښې د تلاوت د سجدې آیت موجود وي. کله چه څوک هغه ولولي او یا د تلاوت د سجدې آیتونه واوري نو د تلاوت سجده پرې واجبیږي.

په ټول قرآن کریم کښې په څوارلسو ځایونو (څوارلسو سورتونو) کښې د تلاوت سجدې شته، چه په راتلونکي جدول کښې د هرې سجدې سورة، رکوع او د آیت نمبر په څرګند ډول لیکل شویدي.

۱- قرآن کریم ۱۱۴ سورتونه لري چه ۸۶ سورتونه یې مکي او ۲۸ یې مدني دي.

د تلاوت د سجدو جدول

شمېر	سورة	پاره	رکوع	آیت	وجوب
۱	سورة الاعراف	۹	۲۴	۲۰۶	
۲	″ الرعد	۱۳	۲	۱۵	
۳	″ النحل	۱۴	۶	۵۰	
۴	″ بنی اسرائیل	۱۵	۱۲	۱۰۹	
۵	″ مریم	۱۶	۴	۵۸	
۶	″ الحج	۱۷	۲	۱۸	
۷	″ الفرقان	۱۹	۵	۶۰	
۸	″ النمل	۱۹	۲	۲۵	
۹	″ السجدة	۲۱	۲	۱۵	
۱۰	″ ص	۲۳	۲	۲۴	
۱۱	″ حٰمٓ السجدة	۲۴	۵	۳۸	
۱۲	″ النجم	۲۷	۳	۶۲	
۱۳	″ الانشقاق	۳۰	۱	۲۱	
۱۴	″ العلق	۳۰	۱	۱۹	

د تلاوت د سجدې دادا کولو طریقه .

لومړی بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ویل کېږي او بیا داسې نیت کېږي چه : نَوَيْتُ اَنْ اَسْجُدَ لِسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ الْقُرْآنِ آمَنْتُ بِالرَّحْمٰنِ وَرَضِيْتُ بِالْاِسْلَامِ مُتَوَجِّهًا اِلٰى جِهَةِ الْكَعْبَةِ الشَّرِيْفَةِ .

یعني نیت مې کړې چه د قرآن لوستلو سجده وکړم ، په خدای مې ایمان راوړی او په اسلام خوښ یم د کعبې شریفې په لورې مخ کړی دی . بیا اَللهُ اَکبر ویل کېږي پرته له قیام لاسونو اوچتولو اورکوع کولو څخه سمدستي د لمانځه په څېر یوه سجده ایښودل کېږي ورو ورو سته له هغې چه درې ځلې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى وویل شي بیا په اَللهُ اَکْبَرُ ویلو سره راکښینا ستل دي او بې له دې چه سلام وګرځول شي دعا کېږي او سجده پای ته رسېږي .

تمرین

۱- قرآن کریم په کوم پیغمبر نازل شوی دی ؟
۲- مکّي او مدني سورتونه څه فرق لري ؟
۳- د تلاوت سجده څو وخت واجبیږي ؟
۴- د تلاوت د سجدې نیت ووایاست ؟
۵- د تلاوت په سجده کښې ترتیب وروسته څنګه عمل کیږي ؟

دریم فصل

عقائد

دعقاید تعریف : عقاید دهغه علم څخه عبارت دی چه د خدای پاک د ذات او صفاتو څخه بحث کوي.

ایمان : ایمان په لغت کښې تصدیق او باور ته وایي او د شرع په اصطلاح د خدای پاک په خدایئ او هغه څه په حقانیت باندې په زړه اقرار او په زړه تصدیق کولو ته ایمان وایي چه د خدای ﷻ له لوري حضرت محمد ﷺ ته راستول شوي او مونږ ته رسیدلي دي.

اسلام :

اسلام په لغت کښې تسلیمیدو او غاړې ایښودلو ته وایي او په عامه اصطلاح کښې د هماغه وروستي آسماني دین څخه عبارت

دی چه د خدای تعالیٰ له خوا پر حضرت محمد (ص) نازل شوی اومونږ منلی دی.

پاك خدایٔ د اسلام د پښتلی دین غوره والی د قرآن کریم په کتب شمیر آیتونو کښې بیان کړے دی چه څینی آیتونه یې په دې ډول دي پاك خدایٔ فرمائی:

وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا. (۱)

ترجمه: او غوره مې کړ تا سولپاره اسلام ددین په توګه.

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ (۲)

ترجمه: په ربنتیا چه ډېر ښه دین د خدایٔ په نزد اسلام دی.

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ (۳)

ترجمه: هرڅوك چه پرته له اسلام نه بل دین غواړي، هیڅکله ترې

۱- دمایدة سورة (۲) ۳ آیت ۲- آل عمران (۱۸) ۱ آیت ۳- آل عمران سورة ۸۴، ۱ آیت

نه قبلېزي يعني پرته له اسلام نه بل هيڅ دين خداىٔ نه قبلوي.

د خداى تعالى صفتونه

د خداى پاكٔ صفتونه دوه ډوله دي. ذاتي صفتونه او فعلي صفتونه.

۱- ذاتي صفتونه: دهغو خداوندي صفتونو څخه عبارت دي چې خداى پاكٔ يې لري.

خو دهغو د ضد نسبت هيڅكله خداىٔ ته نه كېزي، مثلاً قدرت چې د پاك خداىٔ ذاتي صفت دى، نو د دغه صفت پر ضد چې د قدرت نشتوالى دى خداى پاكٔ تر نسبت نه ورکول كېزي. ځكه چې خداى پاكٔ بې له كوم شك نه قدير او توانمن ذات دى.

د خداى پاكٔ ذاتي صفتونه اوه (۷) او په لاندې ډول دي.

۱- حيات ۲- قدرت ۳- علم ۴- كلام ۵- سمع

احکامو له څرنګوالی څخه خبر کړي دی .

دوچې پېل په آدم (ع) او ختم په حضرت محمّد (ص) شوی دی . ځکه چې زمونږ پېغمبر (ص) خاتم المرسلین دی .

په دې ټولګي کښے دهغې وحي ځنې بحث کوو کومه چې حضرت محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلې ده .

دوحي اقسام : وحي په دوه ډوله ده .

۱- جلی (ښکاره) وحي .

۲- خفي (پټه) وحي .

۱- جلي وحي د خدای تعالیٰ ؒ دکلام (قرآن مجید) څخه عبارت دی چې جبرائیل (ع) راوړی ، په حضرت محمّد (ص) یې لوستلی اوورته یې ورزده کړې دی .

قرآن کریم په (۲۳) کلونو کښې د خدای تعالیٰ ؒ له خوا په حضرت محمّد (ص) باندې له آسمان نه ځمکې ته را نازل اوښپړ شوے

٦- بصر ٧- اراده .

١- حیات

حیات د خدای پاکؑ ذاتي صفت دی اوپه دې صفت تل موصوف دی . ځکه چې خدای پاکؑ تل ژوندی دی اومړک او فنا نه لري . نو دحیات (ژوند) په ضد چې ممات (مړک) دی نه موصوفیږي د خدای پاك داذاتي صفت په دې آیت ثابت دی چې فرمائی :

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ

ترجمه : پرته له یو خدای نه بل خدای نشته هغه ژوندی او دعالم تدبیرکوونکی دی .

٢- قدرت

قدرت دخدای پاکؑ هغه ذاتي صفت دی چې په مقدوراتو

کښې اغيزمن دی ځکه چې يواځې خدای پاک ﷻ دټولو مخلوقاتو
د پيدا کولو ، ساتلو ، فنا کولو اوبيا راژوندي کولو توان او
قدرت لري . د دغه صفت په ضد چه ناتوانې او عاجزی
ده خدای پاک ﷻ نه موصوفيږي ځکه چې خدای تعالیٰ ﷻ ناتوان او
عاجز نه دی .

د خدای پاک دا صفت په دې آيت ثابت شوی دی چه فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ .

ترجمه : په ريښتيا چه خدای ﷻ په هرشي توانمن دی .

۳- علم

علم د خدای پاک ﷻ هغه ذاتي صفت دی چې د هغه له مخې
د هرڅه په باب پټ ويي که بنکاره پوره علم اوپوهه لري او د
هغه پرضد چه ناپوهي ده خدای پاک ﷻ نه موصوفيږي .

د خدای پاک علم په دې ایت ثابت دی چې فرمائي :

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ .

ترجمه : په ریښتیا چې خدای په هرشي ښه خبر او پوه دی .

۴ - کلام

کلام د خدای پاک ذاتی صفت او قرآن کریم د خدای تعالیٰ د کلام غوره مثال دی . د دغه صفت پرضد چې کونکوالی دی خدای پاک نه موصوفیږي د اصفت په دې ایت سره ثابت شوی دی چې فرمائي :

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا ۝ ۱،

ترجمه : او خدای پاک د موسیٰ ع، سره خبرې وکړې ، په خپلو خاصو اوازلې خبرو سره .

۱- خدای پاک د حضرت موسیٰ ع، سره په کوه طور (سیناغر) کښې دوریځې ترڅا خبرې کولې .

د خدای پاکؑ کلام اوخبرې دانسان اونورمخلوق دخبروسره هیڅ ورته والی نلري ځکه چه دانسان اونورومخلوقاتو خبرې فنا کیدونکې اود خدای پاکؑ خبرې تل پاتیدونکې دي.

۵- سمع

سمع دخدای تعالیٰؑ ذاتي صفت دی چه اوریدل پرې کوي اوهرډول اوچت او ورو ، لرې اونژدې آوازونه اوخبرې اوري. کوونوالی چه دسمع ضد دی خدای پاك پرې نه موصوفېږي اوداصفت یې په دې آیت ثابت دی چه فرمائي :

اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ .

ترجمه: په رښتیا چه خدای بنه اوریدونکی بنه عالم اوپوه دی.

۶- بصر

بصر دخدای تعالیٰؑ هغه ذاتی صفت دی چه په لیدلو پورې اړه لري

په دې معنی چه خدای پاك په خپل دایمي نظر هرڅه کوري
اوله لیدلو څخه یې هیڅ شی بیرون نه دی .

دبصیر په ضد چه پوهه والی دی خدای پاك نه موصوف
کېږي اودبصر ثبوت یې په دې آیت سره شوی دی چه فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ .

ترجمه : په ریښتیا چه خدای کوري هر هغه څه چه تاسې
یې کوئ .

۷- اراده

اراده د خدای تعالیٰ ذاتي صفت دی داسې چه یواځې
خدای پاك دیو کار د کولو یا نه کولو دا رادې اوواك څښتن
دی اوددې صفت په ضد چه بې واکي اواجباردی خدای پاك
نه موصوفیږي اودا صفت په دې ایت ثابت دی چه خدای تعالیٰ
فرمایي : فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ . ترجمه : په هر بنه او

کړو توپکه د هرهغه څه کوونکی دی ، چه اراده ئی وکړي .

۲- د خدای تعالی فعلي صفتونه

دا هغه صفتونه دي چه خدای تعالیٰ پرې موصوف کېږي او دهغو پرضد هـــم موصوف کېدای شي. د خدای پاك دا ډول صفتونه زیات دي خو مونږ ئـــ دنمونې په توګه درې صفتونه لولو .

۱- تخلیق

تخلیق پیدا کولوته وایئـــ او دا د خدای تعالیٰ هغـه فعلي صفت دی چه کـه د هرڅـه پیدا کول وغواړي هغـه پیدا کولای شي ، منکر د تخلیق (پیدا کولو) په ضد چه عدم تخلیق (نه پیدا کول) راځي هـم لوې خدایٰ موصوفېږي ځکه خدایٰ اختیار لري چه کـه دکوم شي پیدا کول ونه غواړي ، نونه ئـــ پیدا کوي.

۲- تـرزیق

ترزیق روزی ورکولوته وایی اوداد خدای پاك هغه فعلي صفت دی چه خپل مخلوق ته پرې روزي ورکوي خوددې صفت په ضد چه عدم ترزیق (روزي نه ورکول) راځي هم پاك خدای موصوفېږي ځکه چه دا اختیار لري چه ځینو مخلوقاتو ته روزي ورنکړي .

۳- احیـاء

احیاء ژوندي کولوته وایی اوداد خدای پاك داسې فعلي صفت دی چه هرساکښ ته پرې ژوند ورکوي ،مګر ددغه صفت په ضد چه مړه کول دي هم خدای پاك موصوفېږي ځکه چه خدای پاك کولاے شي چه ځینې شیان ژوندي کړي اوځینې مړه کړي .

نبوّت

نبوت د خدای تعالی کلام اوزبری دی چه د جبرائیل ،ع، په واسطه نبي او پیغمبرته رسیدلی وي .

ولایت : هغه خبردی چه د الهام په طریقه د ولي په زړه کښې اچول کیږي اوبی له ځنډه د ډاډ او قبول وجوب را ولي .

دا سلام د پښتلي دین په چوکات کښې داسې کارونه پښیږي چه که له یوې خوانه د عادت نه اوچت وي نوله بلې خوا نه یې کښې د پیغمبرد نبوت اود ولي د ولایت د ربښتینولئ ثبوت پروت وي . له دغو کارونو څخه د ځینو لمن دومره پراخه وي چه عامو مسلمانانوتر هم ورسیږي دا کارونه د معجزې ،کرامت او معونت په نومونو یادیږي .

۱ـ معجزه : معجزه د عادت نه اوچت کار ته وائی چه د

نبوت د څښتن د پېغمبرۍ رښتینولۍ ثابتوي . لکه قرآن کریم چې د آخرالزمان پېغمبر حضرت محمّد (ص) معجزه ګڼل کېږي او د خپل نبوت د رښتینولۍ برېښولو لپاره یې د قرآن کریم معجزه عربانو ته په داسې وخت کښې وړاندې کړه چې د عربي ژبې ادبیات هم په نظم او هم په نثر کښې خپل اوچت پړاو ته رسېدلي وۀ ، مګر هیڅوا و نه شول کړای چې د قرآن کریم دیو کوچني آیت په اندازه یوه لنډه جمله هم جوړه کړي.

۲- **کرامت** : کرامت د عادت نه پورته کارډی چې د یو متقي او پرهېزګار مسلمان لخوا نورو انسانانو ته څرګند ېږي ، خو د نبوت دعوه نه نلري . لکه د هغه ېښپر مسلمانو سړي واقعه چې په قرآن کریم کښې راغلې ده ، چې حضرت سلیمان (ع) ته یې د ستړګو په رپ کښې د بلقیس تخت راوړا و د دې قصې په قرآن کریم کښې یادونه شوې ده .

۳- معونت

معونت هغه څیزدی چې عاموسلمانانوته حاصلیږی څې لکه یو مسلمان چې د ستونزو اوکړاوونو څخه د ځان ژغورنې لپاره خدای ته دعا کوي اودعا د قبلیدو په وخت کښې ورڅخه سختي لرې کیږی.

ځینې نورکارونه هم شته چې کیدل یې له عادت نه پورته دي خودا سلام په چوکاټ کښې داخل نه دي اواسلامي محیط تړې منع اوبیې ساتل شوی دی.

۱- سحر اواستدراج: سحراواستدراج له عادت نه داسې اوچت کارونه دي چې د یو نامسلمان شخص له خوا سرته رسیږي او د دعوې سره یې سمون هم لري. لکه د موسی (ع) سره د مقابلې په وخت کښې چې ساحرانو او پاډوکرانو د کتونکو خلکو په خیال اونظر کښې له پیرو څخه ماران جوړکړل اودموسی (ع) دامسا د

دی .

۲- خفي (پټه) وحي :

خفي وحي هغه وحي ده چه خدای پاك خپل پيغمبرته پرخوب کښې ، ديوحکم اوکارکولو امرکړی وي . مثلاً حضرت ابراهيم (ع) ته په خوب کښې وحي وشوه چې خپل زوی اسمٰعيل (ع) حلال کړي . يا خفي وحي خدای پاك پيغمبر ته د القاء (زړه کښې واچولو) په ذريعه ورکړې وي لکه د حضرت مُحَمَّد (ص) احاديث مبارك چې جبرائيل (ع) نه وولوستلي بلکه - خدای پاك ورته په زړه کښې اچولي وو .

د حديث تعريف :

د نبی عَلَيْهِ السَّلام قول (وينا) ، فعل (کړه) اوتقريرته حديث ويل کيږي .

۱- د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قول : هغه احاديث چې نبی (ع) په خپله خوله مبارکه د کوم کار ياشي په باره کښې

معجزې په مقابل کښې له ماتې نه وروسته ئې ايمان راوړ .

۲- **اهانت** : اهانت هم له عادت نه پورته کار دی خو د دعوه کوونکي د دعوې سره سمون نلري . لکه - مسيلمة الکذاب چې په درواغويئ د پيغمبرئ دعوه کړې وه او خلکو ترې د دعوې د ثبوت لپاره معجزه وغوښته چې دیو کوز سترګي ستړکه دې روغه او سمه کړي مګر کله چې مسيلمة الکذاب خپلې معجزې ته توجّه واړوله نو د کوز سترګې بله سترګه هم کږه شوه او په دې وسيله هغه په خپله دعوه کښې درواغجن شوا و پيغمبري ئې ونه منل شوه او نورهم رسوا او سپک شو .

تمرين

۱- عقايد له څه شي نه بحث کوي ؟
۲- ايمان او اسلام څه فرق لري ؟
۳- د خدای تعالیٰ صفتونه په څو ډله دي ؟
٤- د خدای تعالیٰ ذاتي صفتونه څودي ؟
٥- نبوّت ، معجزه او کرامت څه ته وايئ ؟
٦- معونت څه ته وايئ ؟
۷- سحر واستدراج او اهانت څه ته وائی ؟
۸- د خدای تعالیٰ د پنځو فعلي صفتونو نومونه واخلی ؟
۹- له څه نه پوهيږی چه اسلام غوره دين دی ؟
۱۰- په کوم آيت ثابتيږي چه اراده د خدای پاک ذاتي صفت دی ؟

څلورم فصل

فقهه

تعريف : فقهه په لغت کښې پوهې ته وائې او په شرعي اصطلاح کښې فقهه هغه غوره علم دی چه په شرعي احکامو د عمل کولو طریقې څنې بحث کوي .

فقیـــه : فقیه هغه عالم ته ویل کیږي چه د شرعي احکامو په باره کښې پوره پوهه او معلومات ولري .

روژه : روژه په لغت کښې بندیزا وځان ساتنې ته وائې او په شرعي اصطلاح کښې د روژې په نیت سره د ربښتینې سبا د راختلونه تر مانښامه پورې د خوراک ، څښاک ، نا روا

اعمالو او داسې نوروکې و څخه د مکلّف مسلمان ځان ساتنې او
ډډې کولو ته روژه وایئ .

دروژې اقسام

۱- د رمضان په میاشت کښې روژې نیول فرض دي .
۲- د کفارې او نذرې روژې نیول واجب دي .
۳- د عاشورې او عرفې په ورځ روژه نیول نفلي روژه
شمېرل کېږي .

د هرډول روژې لپاره د شپې له خوا نیت کول مستحب دي
مګر که چا د شپې له خوا نیت ونکړ نو په ورځ کښې د
لمر تر زوال دمخه هم نیت کول روا دي . خود رمضان د
میاشتې په قضائیې اوهغې نذرې روژه کښې چې ورځ یې
نه وي تاکله شوې د سبا ترختلو نه وروسته د روژې نیت
نه صحیح کېږي . که د چا څخه د رمضان د مبارکې میاشتې روژه

هېره وي او په روژه کښې څه خوړل ، څښل اويا جماع وکړي روژې ته يې هيڅ نقصان نه رسېږي او روژه يې صحيح ده . مګر که پورتني عملونه په قصد سره وکړي نوبيا پرې برسېره پر قضايې کفاره هم لازمېږي .

که له چانه پورتني عملونه په خطايې سره وشي نو يواځې د روژې قضايې پرې نشته او کفاره ورباندې نه راځي.

که پرچا په نيمايې ورځ کښې روژه فرض شي نو د رمضان د مياشتې پر پاتې ورځو برسېره به د هماغې نيمايې ورځې روژه هم نيسي . لکه يو ماشوم چې نوی بلوغ ته ورسېږي او يا کوم کافر مسلمان شي . مګر د رمضان د مياشتې د تېرو شپو ورځو قضايې پرې نشته .

کفاره :- د روژې کفاره په پرله پسې دوه مياشتې روژې نيول دي. يا شپېتو تنو مسکينانو ته دفطايې په اندازه خوړو اويا د ستر عورت په اندازه جامو ورکولو څخه عبارت دی . اوکه غلام وي نو د يو غلام ازادول دي.

د روژې فرضیت :

هر قمري (سپوږمۍ) کال دولس میاشتې دی ، پوره یوه میاشت پکښې د رمضان ده . په دې میاشت کښې په هر مکلّف مسلمان په پرله پسې ډول روژې نیول فرض دي .

د روژې فرضیت په دې آیت سره ثابت شوے دی .

يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ [1]

ترجمه : ای مؤمنانو په تاسو باندې روژه همداغه شان فرض شوې لکه څنګه چه له تاسونه په مخکښوا و پخوانیو خلکو فرض شوې وه ښایې چه پرهېزګاران شئ .

په بل آیت کښې خدای پاک څرګند حکم کړی چه :

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ [2]

۱- د سورۀ بقره ، ۱۸۳ ، آیت

۲- " " " ۱۸۵ " "

ترجمه : نوله تاسونه چې هرچا دغه میاشت ولیدله
دامیاشت پرې راشي، نو اومرودې پکښې روژه شي .

د تراویح لمونځ

درمضان په مبارکه میاشت کښې د ماسخوتن د لمانځه د فرضو او سنتو رکعتونو څخه وروسته څلور رکعته تراویح او په پای کښې درې رکعته وتر واجب لمونځ په جماعت سره ادا کېږي.

حضرت محمد (ص) به د تراویح په لمانځه کښې یوځل د قرآن عظیم الشان ختم هم کاوه . له دې کبله درمضان پرمیاشت کښې تراویح او د قرآن کریم ختم پرمونږ سنّت دی.

اعتکاف : په جامع جومات کښې دشپې اوورځې له خوا د روژې او سپېدلواو وخت تېرولوته اعتکاف ویل کېږي.

معتکف د خدای تعالیٰ ذکر د قرآن کریم تلاوت اولمونځونه کوي ، بې له ضرورته بهرنه وځي اودمانديني سره هم نه یوځای کیږي.که له پورتنیو چاروځنې مخالفت وکړي اعتکاف یې فاسدیږي. داعتکاف وخت دمعتکف په نیت پورې اړه لري.که معتکف دهرڅو ورځولپاره داعتکاف نیت کړی وي نو دهماغو ورځواوشپواعتکاف پرې په پرله پسې توګه لازمیږي.

دروژې کتې

روژه نیول د آخرت په اجراوثواب برسېره چه خدای پاک یې روژلې ته ورکوي د انسان دژوند په ساحه او دنیا کښې هم ډېری فردي ،ټولنیز، اجتماعي ،ټولنیزې، او صحي

۱- په جماعت سره دوتر واجبواداکول یواځې دروژې په میاشت کښې دي په نورو شپوکښې یواځې اداکیږي.

، روغتیائی، کتې لري .

دروژې فردي کتې :

روژتی دروژې په نیولو دلوزو تندو سره مخامخ اوروزدی کېږي ، نوکله چې پرې دژوند په اوزدوکښې نا خاپې بې وسې او ستونزې راشي دهغوپه مقابل کښې په پوره صبراوحوصلې سره مقاومت کوي اوخپل ځان نه بائیلي .

مګر ددې برخلاف هغه خوک چه دروژې نیولو سره روزدی نه وي اودلوزې اوتندې دمشکلاتو سره مخامخ شي په پر ژر صبراوحوصله دلاسه ورکوي اوخپل ژوند بائیلي.

دروژې اجتماعي کتې :

شتمن او بډای مسلمانان پخپله تل آسوده اوسوکاله ژوند کوي ، نوکله چې بډایانو تر دروژې په نیولو سره دلوزې او تندې پېښتیوا وکړاوونو دبې وسوا وبې وزلو مسلمانانو

حالت ور په زړه کېږي . سمه ستي فکر کوي چې دې وسو اوبو وزلو مسلمانانو کرد ژوند تل په لوړه اوبو وسئ کښې تېريږي ، ځکه يئ پرهغوے زړه سوی پېدا شي اوورباندې يئ د مهربانۍ اومرستې کولو احساس راوپارېږي .

په نتيجه کښې د خپل مال اوشتوځنې څه ونډه غريبانو اوبو وزلوته ورکوي.

بې وسې اوبو وزلې کسان د بډايانو په دې پرول خوا خوږې اومرستې سره له هغوی څخه خوشحالېږي . په پاې کښې دې وزلوا و بډايانو ترمنځ مينه اودوستي پېدا کېږي اوهريو ، يود بل ترڅنګ هوسا اوپاڼه ژوند تېروي چې دا په خپله د ټولنې دنيکمرغۍ سبب ګرځي .

د روژې صحي ګټې :

د روژې نيول د انسان بدن ته لاندينۍ ګټې رسوي .

۱- پوره يولس(۱۱) مياشتې چې معده په پرله پسې توګه له

ویلی دي دنبی (ع) قول و رته وایی . لکه وَعَنْ ابنِ عُمَرَ رضی قال قال رسول الله (ص) بُنِیَ الْاِسْلَامُ عَلٰی خَمْسٍ شَهَادَةِ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ .

ترجمه : د حضرت ابن عمر رضی نه روایت دی چه پیغمبر فرمایلی چې اسلام په پنځو بناوو ولاړدی او شاهدي ورکول الله دی چه پرته له یو الله نه بل څوك د عبادت وړ نشته او بیله شکه حضرت محمد (ص) د خدای بنده او پیغمبر دی ۲ - لمونځ ادا کول ۳ - زکات ورکول ٤ - حج کول ٥ - د رمضان روژې نیول .

۲ - د نبی کریم (ص) فعل : هغو احادیثو ته وایی چې پیغمبر (ص) په خپله خوله مبارکه نه دي ویلي ، مګر عملاً یې کوم کار کړی وي . لکه : صَلُّوْا کَمَا رَاَیْتُمُوْنِی اُصَلِّی

ترجمه : هغه شان لمونځ کوئ تاسو لکه چه ما وینی چه زه څنګه لمونځ کوم .

خوړو او اوبو څخه ډکه وي نو ښه ، ځکه ، هم مجبوريزي چې د صفرا د کڅوړې تېزابي مواد تل ترتله د خوړو هضمولو په وخت کښې تيار اوو رباندې مصرف کړي . په يوې مياشتينۍ روژه کښې د صفرا کڅوړې څخه څڅيدونکې تېزابي مواد په معده کښې جمع شوو خوړو باندې ورڅېښې او هغه په بشپړ ډول هضموي .

۲- دکال په يو معلوم وخت ، روژه ، کښې لږ خوراک او څښاک د ناروغتيا د علاج لپاره ډېره غوره لارده .

۳- د هاضمې د جهاز ، پښتورګو او ېنې ناروغۍ چې په درو درملونو علاج نشي کېدای ، په روژې نيولو سره په بشپړ ډول تداوي کيږي .

۴- د ناوړه هضم ښه دارو درمل د روژې نيول دي .

۵- د ځيګر ، ېنې ، يوه خاصه ناروغي چې زيږي ئې بولي په روژې نيولو سره له منځه ځي ، ځکه چې دا ډول ناروغي

زیاتره دینې دستورپا له کبله پیدا کیږي او دینی زیات کار کولو په وخت کښې له وینې څخه د صفرا مواد نه جدا کیږي.

۶- د روژې په میاشت کښې روژتي د پر خوراک او څښاک نه کوي ، نوځکه ئې اشتها هم بنه کیږي . دښه اشتها په صورت کښې دخوړو دهضمیدو نه وروسته د بدن دا رتیا ورکیمیاوي مواد په بنه توګه وجود ته جذبیږي اوروغتیا ته ګټه رسوي.

۷- د خدای تعالی ځ کرانو پیغمبر حضرت محمد (ص) هم د روژې په برخه کښې فرمائلی دي چه :

صُومُوا تَصِحُّوا : یعني روژه ونیسی چه روغتیا وموسی .

۸- د پخوانی طب زیاتره طبیبانو هم روژې نیول د ځینو ناروغیو د منځه وړلو لپاره غوره ګڼلې ویلې ئې دي چه په روژې نیولو سره روح تربیه کیږي او روح او بدن ناروغیو څخه ساتي او دا انسان اراده غښتلې کوي .

تمرین

په لاندې جملو کښې د صحیح عبارت لاندې کرښه (ـــ) وباسئ.

الف : روژه دا سلام لومړۍ رکن دی .

ب : " " څلورم " " .

ج : " " پنځم " " .

د : " " دریم " " .

الف : د روژې فرضیت په آیت سره ثابت شوی دی .

ب : " " " اجماع " " .

ج : " " " " حدیث " " .

د : د " " " د امام ابوحنیفهؒ په قول "

۳ - په کوم دول روژه کښې نیت کول د شپې له خوا ضرور

دی اوپه کوم قسم کښې دوړځې له خوا هم روا دی .

۴- دروژې اقسام وویاست .

۵ - دروژې فردي ، اجتماعي اومحلي کښې بیان کړئ .

۶- الف : د تراویح په لمانځه کښې د قرآن عظیم الشان ختم فرض دی .

ب : " " " سنت دی

ج : " " " واجب دی

د : " " " جائز دی

پنځم فصل

حج

حج د اسلام پنځم رکن دی چه په لاندې ډول بیانیږي.

د حج تعریف: حج په لغت کښې قصد او نیت کولو ته وایي او د شرع په اصطلاح کښې په تاکلي وخت او ځایونو کښې د تاکلو منا سکو (افعالو) پرځای کولو ته حج وایي او د حج تاکلی وخت د شوال (کمکي اختر) ذی القعدې (میاشتې) دوه میاشتې او د ذی الحجې (لوی اختر) د میاشتې د لسو ورځو مبیو ورځو څخه عبارت دی چه بل وخت کښې نه صحیح کیږي.

د حج فرض کېدل

حج په لاندې مبارک آیت سره فرض شوی دی.

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً ۚ

ترجمه : اوخاص دالله لپاره په خلکو لازم دی د بیت الله حج ، څوك چې قدرت ولري وړته دلارې د تونبې .

حج پر آزاد ، عاقل ، بالغ او بډای مسلمان لازمېږي په دې شرط چې دحج ځای ته د تګ اوترې راتګ لپاره د ځان سره دلارې د تونبې او بارکېږ قدرت او وسه ولري او خپلواولادونو او ښځې ته یې د هغوے د ضرورت څخه زیاته شتمني پریښې وي او په لارکښې هم په امن وي. هغه ښځه چې حج پرې فرض شي اوتر بیت الله شریف پورې په یلي تګ دلارې شرعي مسافه د رې ورځې اویا زیاته وي نو د مېړه یا بل محرم شته والی ورسره ضروردی په یواځې ځان یې د تګ په صورت کښې حج نه

د آل عمران سورې ۹۶ آیت

صحیح کیږي .

حضرت پیغمبر (ص) فرمایلی دي چه که په هرچاج فرض شي اوادایئ نه کړي اومړشي نومړک ئې د یهودي یا نصراني په شان دی .

د حج اقسام

ج درې ډولونه لري : ج قِران - ج تمتع - ج مفرد

۱- **ج قِران** : ج قِران هغه دی چه حاجی په احرام ترلو کښې ج او عمري دواړو نیت وکړي نیت یئ په دې ډول دی :

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَالِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ

ترجمه : ای خدایه زه د حج او عمري نیت کوم ، نو دواړه راته آسان کړې اود واړه راڅخه قبول کړې .

وروسته له نیت نه به په تلبیه ویلو شروع وکړي . تلبیه په دې ډول ده : اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ .

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ .

ترجمه : تاته په طاعت ولاړ يم اى خدايه. تاته په طاعت ولاړ يم. تاته په طاعت ولاړ يم. تا سره شريك نشته ، تاته په طاعت ولاړ يم ، هر ډول نيك صفت او نعمت ستا دى او پاچاهي هم ستاده او تا سره يكښې هيڅ شريك نشته دى .

۲- حج تمتع : حج تمتع هغه حج دى چه حاجى لومړى له ميقات څخه د عمرې لپاره احرام وتړي او هر كله چه حرم ته ورسيږي نو د بيت الله چاپيره طواف كوي او په مقام ابراهيم كښې به دوه ركعته لمونځ ادا كوي د صفا او مروه د سعې كولو څخه وروسته به ځان حلال كړي احرام به لرې كړي او په مكّه معظمه كښې به استوګنه غوره كړي .

څه وخت چه د ذى الحجې اتمه (۸) ورځ شي د حج لپاره به د حرم نه احرام وتړي .

دعمرې نیت : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ الْعُمْرَةَ فَیَسِّرْهَالِیْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّیْ .

ترجمه : ای خدایه زه دعمرې نیت کوم نوراته یې اسانه کړې اوراڅخه یې قبوله کړې .

۳- حج مفرد : حج مفرد هغه حج دی چه حاجی دمیقات نه په احرام ترلو کښې یواځې دحج نیت وکړي . دحج نیت یې دادی :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ الْحَجَّ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّیْ .

ترجمه : ای خدایه زه دحج نیت کوم نوراته یې آسان کړې اوراڅخه یې قبول کړې .

میقات

هغه ځای چه حاجی ورڅخه دحج یا عمرې په نیت احرام تړي دمیقات په نوم یادیږي . بیت الله شریف ته دهرې خوانه بیلا بیلې لارې تللې دي نوځکه په هرلورکښې بیل ، بیل

میقات شته لکه د مدینې په لار ذوالحلیفه ، د عراق په لار ذات عرق ، د شام په لار جحفه ، د نجد په لار قرن او د یمن په لار یللم میقات دی .

که څوک پورتنیو ځایونو ته درسیږي د دغه احرام وتړي هم روا دی . او که دچا دا ستوکنې ځای بیت الله ته له میقات نه نژدې وي نو دهغه لپاره حِل ځمکه میقات دی خو که استوکنځی یې په مکّه کښې وي نو د عمرې د احرام لپاره یې میقات د حِل ځمکه او د حج لپاره یې حرم شریف میقات دی .

خو هغه حاجیان چې د میقات له هاخوا نه مکّې ته راځي ، باید له یاد وشوو ځایونو څخه پرته له احرام نه مکّې معظمې ته لاړ نشي او که نه نو واجب پاتې کیږي .

حِل ، هغه زمکه چې د حرم څخه بهر وي ، حِل بلل کیږي .

۳- د نبی کریم (ص) تقریر : هغو حدیثونو ته وایی چې چا د حضرت پیغمبر (ص) په حضور کښې څه ویلي او یائی کوم عمل کړی وي نو آنحضرت ترې منع کړی نه وي او یا پرې خوشحاله شوی وي لکه د معاذ بن جبل وینا چې یمن ته د قاضي په حیث ترټاکې د مخه ترې حضرت پیغمبر (ص) پوښتنه وکړه چې فَبِمَا تَقْضِ یعنې په څه به قضاوت او فیصله کوې ؟ هغه وویل : بِكِتَابِ اللّٰه یعنې د خدائ په کتاب (قرآن) بیائ ترې پوښتنه وکړه چې که په کتاب الله کښې نه وي ، نو په څه ؟ ویئ وئیل بِسُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰه یعنی د پیغمبر په سنّت بل حُل یئ ترې پوښتنه وکړه چې که په سنت کښې نه وي څنګه؟ ویئ ویل (اَجْتَهِدُ بِرَأْيِي) یعنې په خپله رایه به اجتهاد کوم .

چې د خدائ رسول پرې ډېر خوښ شو او د خدائ حمد او ثناء یئ وویله .

دج کولو طریقه

په حج پورې اړه لرونکې مسئلې : کله چې څوک دحج اراده وکړي نوله هرڅه نه لومړې باید اودس یا غسل وکړي (غسل کول غوره دي) بیا به یو لنډ او یوځای درې نوی یا مینځل شوی وي واغوندي او خوشبوئ به هم استعمال کړي ، د دوه رکعته لمونځ دادا کولو نه وروسته به دحج نیت وکړي دنیت په پای کښې به تلبیه ووایئ اودتلبیې په الفاظو کښې به کمی نه راولي.

کله ئې چه تلبیه وویله نو حاجی پوره محرم شو اود عبثو خبرو ، جنډ کولو ، حلالې کولو بنکار او یا ورته د اشارې کولو ، دکمیس اوپرتوګ اغوستلو ، خوله اوپکړئ په سرولو ، سرا ومخ پټولو ، خوشبوئ استعمالولو، ویښتانو خریلو ، نوکانو غوڅولو اود اسې موزو په پښو کولو څخه چې ښکاره پټوي باید ځان وژغوري .

حمام ته ننوتل ، غسل کول ، اود ملا نه همیاني ترل ورته روا

دي .

کله چه حاجي احرام وتاړه نو په هرلمانځه پسې به تلبیه
ډېره ډېره وایئ اوهم به اوچتو غږ ایونوته دختلو او یا
ژورو غږ ایونوته دکښېوتلو په وخت کښې تلبیه وایئ .

څه وخت چه مکې ته ورسید کعبې ته به لاړشي او
دهغې په لیدو سره به تهلیل اوتکبیر داسې ووایئ :
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ واللّٰهُ اَکْبَرُ . بیا به حجرالاسود ته مخ واړوي ،
تکبیر ، تهلیل اودرود به ووایئ . وروسته له هغې به لاسونه
غوږونوته پورته کړي او که توان او قدرت یئ د رلوده
حجرالاسود به بنکل او مسحه کړي .

بیا به دبیت الله شریف او حطیم[1] په چاپېرله بنځ خوا نه
په طواف شروع وکړي او اوه چکردشه به پوره کړي په
داسې ډول چه په دریولومړیو کردشونوکښې به دپملوانئ
تاکې یعنې دپملوانانو پښې کوي او په نورو چکردشونو کښې

1- حطیم هغه ځای دی چه د بیت الله شریف په داخل پورې اړه لري .

به په عادي حال ګرځي .

که وسه يې کېدله نو په هرګردش او طواف په پای کښې به حجرالاسود ته په رسېدو سره هغه ښکل او مسحه کړي او که وسه يې نه وه نو مخامخ به ورته ودريږي او دهغې په لوربه دامسا يا لاسونو په ورغږولو سره دمسه کولو په څېر اشاره وکړي .

دا طواف سنّت دی او د طواف قدم په نامه يادېږي. هرکله چې له طواف څخه وزګار شي نوبيا به دوه رکعته لمونځ په مقام ابراهيم او يا د جومات بل داسې ځای کښې وکړي چې هلته امکان لري .

وروسته له هغو به په صفا وخټړي او د بيت الله په لوربه مخ کړي ، تکبير ، تهليل او درود به ووايې او دلاسونو په پورته کولو سره به خپل ځان او نورو ټولو مؤمنانو ته دخير دعا وکړي . بيا به په عادي تګ سره مروې ته کوز شي . کله

چې د صفا او مروې منځ ته ورسېږي نو د میلین احضرین (دوه شنو څلیو) تر منځ به سعی او منډه وکړي او مروې ته به درسېدو په وخت کښې د بیت الله په لورمخ کړي او دصفا دعا کانې به وکړي .

د صفا او مروې تر منځ تلې راتلې چې له صفا نه یې پیل کوي او په مروې یې ختمې ېوې اوه (۷) ګردشه پوره کوي په داسې ډول چې هرځل تلې یو ګردش او ېېرته راتلې بل ګردش شمېرل کېږي .

د ذی الحجې د اتمې ورځې مناسك : حاجي به د ذی الحجې د اتمې ورځې (چې د ترویه ورځ ېې بولي) د سهار د لمانځه نه وروسته مِنې ته لاړشي او نهمه شپه به هلته په مِنې کښې وکړي .

د ذی الحجې د نهمې ورځې مناسك : حاجي به د ذی الحجې په نهمه ورځ عرفات ته لاړشي او د لمر د زوال نه وروسته

به د ماسپښین اودمازدیګر لمونځونه په یو اذان او دوه اقامتونو سره په یو وخت کښې په جماعت وکړي اوکه چا په یواځې ځان ښه له جماعته لمونځ کاوه نود هرو خت لمونځ به ښه ښه اوپه خپل وخت اداکړي.

څرنګه چې ددې ورځې (ترویه) په شپه ابراهیم ع، ته په خوب کښې امر وشو چه خپل زوی اسمٰعیل ع، حلال کړي اوابراهیم ع، په دې خوب کښې شکمن ؤ اوترویه هم شک ته وایئ نو دذی الحجې ۸ ورځ د ترویه ورځ وبلله شوه.

دذی الحجې په نهمه ورځ چه دابراهیم ع، دخوب لیدلونه وروسته دذبح موضوع روښانه شوه نوهغه ئې دعرفې د ورځې په نوم یاده کړه اوپه لسمه ورځ ئې چه دا اسمٰعیل ع، حلالوتر اقدام وکړ نو دا ورځ ئې دنحر یالوی اختر لومړۍ ورځ وبلله.

بیا به د عرفات په غونډې چې جبل الرحمت نومیږي ودریږي او په پوره عاجزۍ او زاري زوا سره به دخپرو عاګانې وکړي.

د بطن عُرَینه نومې ځای نه پرته د عرفات نور ټول میدان موقف (ددرېدو ځای) دی. کله چې لمر پریوځي نو حاجي به په آرام پرول مزدلفې ته لاړشي اوهلته به د مشعرالحرام سره نژدې شپه وکړي ځکه چې په دغه ځای کښې شپه کول مستحب دي. همدلته به حاجیان دامام سره یوځای دما سخوتن په وخت کښې د مابنام اوما سخوتن لمونځونه په یواذان او یواقامت په جماعت اداکړي. خوکه چا دمابنام لمونځ په لارکښې یواځې کړی ؤ نو بیا پرې دلمانځه کړځول لازم دي خودامام سره یځ په جماعت اداکړي.

د ذی الحجې دلسمې ورځې مناسك: کله چې په مزدلفه کښې په حاجیانو سبا شي نوپه تیارو کښې به د سهار لمونځ دامام سره په جماعت وکړي او خپل ځان او نورو مسلمانانو ته به دعا وکړي.

پرته له بطن محسر څخه د مزدلفې تولې خمکې موقف (د درېدو ځای) شمېرل کېږي. بیا به د لمر ختلونه مخکې د عقبې جمرې ویشتلو لپاره د منی په لور روان شي، اوهلته به په اوه (۷) کنکرو (کانړو) جمره وولي.

کله چې له جمرې ویشتلونه وزکار شي نو بیا به ذبح (حلاله) وکړي اوخپل سر اوسنت به هم وخروي. بیا به په همدې ورځ اویا دا څخه په دوه نورو ورځو کښې بیت الله شریف ته لاړشي او طواف به ترې وکړي. دا طواف فرض دی او د طواف افاضه یا طوافِ زیارت په نامه یادېږي.

دا څخه له دریمې ورځې نه وروسته د دې طواف کول مکروه دي او په وروسته کووني ئې دم لازمېږي.

د ذی الحجې دیوولسمې او دولسمې ورځې مناسِك:

حاجیان به په دغو ورځو منی ته ځي او د زوال نه وروسته به د جمرې واړه جمرې ولي د جمرو ویشتلو په وخت کښې

به تکبرونه وایئ او بیا به دعا کوي . د جمرو ویشتل
به له هغې جمرې څخه پیل کوي ، کومه چې مسجد خیف ته
نژدې ده . په پای کښې به د عقبې جمرې وولي ، بیا به بې
له ځنډه مکې ته ځي اوپه محصب نومي ځای کښې به کوز شي
او حرم ته به ننوځي او د بیت الله شریف طواف به پرته له
پهلوانۍ وکړي . دا طواف په اطرافي حاجیانو واجب دی
او د طواف صدر ، یا طواف وداع په نوم یادیږي .

په مکّه کښې او سیدونکو حاجیانو باندې دا طواف نشته
یادونه :

که څوک لومړي مکې ته ونه رسیږي او د وخت د کموالي
له امله تر طواف قدوم پاتې شي او عرفات ته لاړ شي
نو کوم جرم ورباندې نه لازمیږي .

که څوک د عرفې د ورځې د زوال نه وروسته دا خترد
ورځې ترسبا ختلو پورې په عرفات د ودریږي فرصت تر لاسه

کړي نو حج ئې صحيح شو.

ښځه په ټولو ذکرشوو حالاتو کښې د نړۍ شان ده، خو د نر سړو د ومړو فرق لري چه ښځه سړه لوڅوي، اواز به نه اوچتوي، د ميلين احضرين تر منځ د تاڼ راتاڼ په وخت کښې به سعي اومنډه نکوي، سړه به نه خروي بلکه د سرو ينښتان به لږ شا نټي لنډوي او په ټولو مراسمو کښې به مخ لوڅ ساتي مګر د مخالفت کولو په ښه کښې پرې دم يا صدقه لازمېږي.

د حج ارکان، واجبات اوسنتونه

الف : د حج ارکان هغه افعال دي چې که له حاجي نه پاتې شي نو حج ئې نه صحیح کېږي، اوهغه دوه دي .

۱- په عرفات ودریدل .

۲- طواف زیارت یا طواف افاضه کول .

اود ځینو علماؤ په نزد احرام هم دارکانو له جملې څخه دی.

ب : د حج واجبات هغه افعال دي چې که له حاجي نه کوم واجب عمل پاتې شي نودم (دځاروی حلال اول) پرې لازم ېږي که دځاروی د حلا لولو توان (اقتصادی توان) نلري نو لس ورځې روژې پرې به نیسي په دې ډول چې درې ورځې به په مکّه کښې اواوه ورځې به کورته درسېدو په وخت کښې ونیسي .

د حج واجبات شپاړس دي .

۱- له میقات څخه احرام تړل .

د نبوي احادیثو مشهور کتابونه په لاندې ډول دي .

۱- جامع بخاری : د حضرت پیغمبر (ص) د احادیثو د ټولو صحیحو کتابونو څخه چې د صحاح ستې په نامه یادیږي یو جامع بخاري کتاب دی . دا کتاب د حضرت پیغمبر (ص) بشپړ صحیح او ثابت احادیث لري .

جامع بخاري په قرآن کریم پسې مرتبه لري او د نبوي احادیثو لومړی کتاب دی چې د قرآن عظیم الشان په شان ډېرش سپارې دی .

دا کتاب امام بخاري تالیف کړی دی . دا امام بخاري نوم محمّد دی ، چې د اسمٰعیل زوی او د بخارا اوسیدونکی وٴ دی د خپلې زمانې یو ستر عالم او د قوي حافظې اوبا داشت

۲- په طواف کښې بل چاته زحمت نه رسول .
۳- د طواف نه ورځ ستنه دوه رکعته لمونځ ادا کول
۴- په اوداسه سره طواف کول .
۵- د حجر اسود نه په طواف پیل کول .
۶- د بیت الله او حطیم په چاپیر طواف کول
۷- د صفا او مروی ترمنځ سعی کول .
۸- سعی د صفا څخه شروع کول او په مروی پای ته رسول
۹- په سعی کښې اوه کرشه پوره کول .
۱۰- د عرفې دورځې د زوال نه وروسته ترماښام پورې
په عرفات و دریدل .
۱۱- په مزدلفه کښې د مشعرالحرام سره یوه شپه ودریدل
۱۲- د اختریه ورځ کښې د عقبې جمرې ویشتل
۱۳- د حج یا عمرې په پای کښې د ویښتانو خریل او یا
لنډول .

١٤- داخترپه اوله ورځ ذبح ، دخاروي حلالولو) اوحلق(دويښتانو خريلو) ترمنځ ترتيب ساتل . يعنې اول ذبح اوبيا ويښتان خريل دي .

١٥- د صفا اومروه دسعي کولو لپاره نيت .

١٦- طواف صدر کول .

ج : دج سنتونه :

دج سنتونه هغه افعال دي چې که له حاجي نه کوم يو پاتې شي نوفديه پرې لازمېږي ، اود فديې اندازه له دده وړ عادلو متقي مسلمانانو له خوا تاکل کېږي .

دج سنتونه څوارلس(١٤) دي چه په لاندې ډول بيانېږي.

١- داحرام تړلو لپاره غسل کول .

٢- داحرام تړلو په وخت کښې خوشبوئي استعمالول .

٣- طواف قدوم کول

۴- تلبیه ویل.

۵- په هغه طواف کښې د پهلوانۍ پېښې کول چه وروسته ترې د صفا او مروه سعی کېږي.

۶- په طواف کښې د پهلوانۍ پېښې کول.

۷- د طواف نیت کول.

۸- د طواف کړد شونه.

۹- د طواف کړد شونه په پرله پسې توګه سرته رسول.

۱۰- د سعی کړد شونه په پرله پسې ډول کول.

۱۱- د عرفات لپاره په منی کښې شپه کول.

۱۲- په عرفات کښې د ماسپښین او ماز دیګر لمونځونه سره یوځای دماسپښین په وخت په جمع اداکول.

۱۳- تر عرفات وروسته په مزدلفه کښې شپه کول.

۱۴- په عرفات کښې د صخرې (ډبرین ځای) سره ودریدل.

تمرین

۱- د حج تعریف وکړئ .
۲- حج په چا فرض دی.
۳- حج څو ډولونه لري .
۴- ښځې په یواځې ځان حج ته تلای شي که نه ؟
۵- حاجی په کوم وخت کښې محرم کمل کیږي ؟
٦- حاجی باید دکعبې شریفې په لیدو سره څه وایی ؟
۷- صحیح ځواب نښه کړئ .

الف : د طواف دوه رکعته لمونځ باید دکعبې د دروازې سره وشي .

ب : " " " " باب الفتح "

ج : " " " " مقام ابراهیم "

د : 〃 〃 په هرځای کښې کېدلے شي هلته وشي .

۸ - صحیح ځواب پیدا کړئ .

الف:طواف باید له مقام ابراهیم څخه پیل شي .
ب : 〃 〃 حطیم 〃 〃
ج : 〃 〃 حجرالاسود 〃 〃
د : 〃 〃 رکن یمانی 〃 〃

۹ - په عرفات او مزدلفه کښې کوم ځایونه دي چې ودریدل پرې روا نه دي نومونه یې واخلئ ؟

۱۰ - که طواف قدم له چا نه پاتې شي څه شرعي حکم لري؟ صحیح معلوم کړئ .

الف : د عرفات په مانښام به حاجیان نیغ صفا مروې ته ځي ؟
ب : 〃 〃 〃 〃 منیٰ ته ځي ؟

ج : " " " مزدلفې ته ځي ؟

د : " " " حرم شریف ته ځي ؟

۱۲- ښځه ډج دمنا سکو په کومو حالاتو کښې دنازینه سره فرق نه لري؟

۱۳- صحیح عبارت نښه کړئ .

الف : د حج ارکان عبارت دي د صفا مروې له سعی او په عرفات درېدو څخه .

ب : " " " طواف قدوم او په عرفات درېدو څخه

ج : " " " طواف صدر " " "

د : " " " طواف افاضی " " "

۱۴- د احرام غسل :

الف : واجب دی . ب : فرض دی .

ج : سنّت دی . د : مستحب دی .

شپږم فصل

یمین یا قسم خوړل

یمین په عربي ژبه کښې دښي لاس ، قوت او قسم معنٰی لري ، خو وروسته بیا په عربو کښې یواځې د قسم بِالله په معنٰی مشهور شوی دی.

د فقهي د علم له مخې دا ټولې معنٰی کا نې یوله بله سره ښیږا ړیکې لري دا ځکه چې عربانو به د اسلام له څرګند ېدو نه د مخه د خپلو خبرو د تینګښت او کلکولو د پاره یوتریله د ښیو لاسونو څخه ښیول . لکه چې دا دود لا تراوسه پورې د افغانستان په خلکو کښې د کلکې وعدې کول لپاره رواج لري چې د کلکې وعدې کولو په وخت

کښې یو بل تہ بنې لاس ورکوي او دا کار د قول په نامه یادوي ، او قسم خوړونکی هغه کوي چه په قسم خوړلو سره خپله خبره قوي کړي او د خلکو باور په خپل ځان زیات کړي . په ربنتیا چه بنې لاس له کین لاس څخه قوي دی او دا رابنیي چه قول یا یمین د نورو خبرو څخه په ښه قوي دی .

د یمین تعریف : د لوی خدای ﷻ په نوم او صفتونو سره د خپل قصد او خبرې د ټینګښت ثبوتولو ته یمین ، قسم ، ویل کېږي ، د خدای تعالیٰ ﷻ له نوم او ذاتي صفتونو څخه پرته په نورو شیانو قسم خوړل نه روا کېږي .

په یمین کښې شرعي حکمت

۱- په خپله څرګنه اوتړون باندې په ښکېږې ایمانداره سره عمل او وفا کول دي .

۲- د خدائ دنوم او صفتونو د زناوی اوپت ساتل دي.

دیمین دثبوت دلیلونه

یمین په قرآن کریم ، نبوي سنّتو او د مسلمان امّت په اجماع سره ثابت شوی دی.

۱- په آیت سره د یمین ثبوت :

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ .(۱)

یعنې خدای پاک ستاسو په لغو قسمونو تاسې نه نیسي ، مګر په هغو قسمونو مونیسي چې موکلك کړي وي . (غموس او منعقد یمین)

۲- د پیغمبر (ص) په حدیث سره د یمین ثبوت :

د یمین د اثبات دپاره ګڼ شمېر حدیثونه شته چې مونږ یې د نمونې په ډول د ګران پیغمبر (ص) د یو حدیث یادونه

۱- د مایدة سورة (۸۹) آیت

کوو چې فرمایلي ئې دي : وَاللّٰهُ لَأَغْزُوَنَّ قُرَيْشاً .
یعنې په خدای قسم چه د قریشو سره به اړومرو غزا او جهاد کوم .

برسېره پردې رسول الله ﷺ، زیاتره وختونه په لاندې دول مبارکې جملې استعمالوې دي .

لَا وَمُقَلِّبُ الْقُلُوْبِ : یعنې نه ده داسې او قسم په هغه ذات چه د زړونو څرخونکی دی .

۳- اجماع : داسلام دشپږلي دین له شروع څخه تر اوسه پورې ټول مسلمانان په دې اتفاق لري چه یمین روا دی .

دیمین شرطونه

قسم خوړل په لاندې شرطونو صحیح دی اوقسم بالله شمېرل کېږي . ۱- قسم خوړونکی باید مکلّف (عاقل او بالغ)

څنبستن وُ . امام بخاري د احاديثو امام او ثيخ دی چې نور تالیفات هــــرلري .

ده په کوچنی والي کښې قرآن کريم په يادويادکړاو بيائې په ۱۸ کلنۍ کښې د بيت الله د حج کولو تکل وکړ . امام بخاري د حج د فريضې دادا کولونه وروسته په مکّه معظمه کښې استوګنه غوره کړه اود احاديثو په زده کولو لګيا شو . شپږ کاله يې په مکّه کښې تېرکړل اوبيائې مصر، شام، کوفې ، بغداد او نورو ځايونوته د احاديثو په زده کولو پسې سفرونه وکړل . لنډه داچې په هرځای کښې به چې کوم عالم ته د نبی کريم (ص) کوم حديث يادوه ، امام بخاري به سمدستي ورپسې لاړ اوحديث به يې تر ې زده کړ . چې په دې ترتيب يې ديوزر نه زياتو استاذانو څخه حديثونه يادکړل ، چې امام احمدؒ اوعلی د عبدالله مدينې روی هــم د امــام بخاري له استاذانو څخه شمېرل کېږي . امام بخاري د نبوي

وي ځکه چه دماشوم اولیونې قسم نه صحیح کښې.

۲- قسم خوړونکی باید د قسم خوړلو نیت ولري او چه قصدیځ نه وي کړی قسم نه صحیح کښې.

۳- قَسم خوړونکی چه په کوم څیز قسم خوري هغه باید په عقل او عادت د واړو کښې واجب او ثابت نه وي خوممکن وي.

د یمین ډولونه

یمین په درې ډوله دی. یمین غموس، یمین لغوه یمین منعقد.

۱- یمین غموس: د دروغو قسم، په دې ډول قسم کښې قسم خوړونکی تېرشوي کار باندې په قصدي توګه د دروغو وئیلو اراده لري لکه چه ووایي:

په خدای مې قَسم چه خالد مې وژلی دی حال داچه ښه پوهیږي چه خالد ژوندی دی او ده ورته هیڅ زیان نه دی

رسولی.

۲- یمین لغوه : په دوه ډوله دی.

الف : په تېرشوي کار باندې په دې ګومان قسم خوړل دي چې ګواکې د قسم خوړونکي خپله خبره رښتیا ده خو په اصل کښې تېروتی وي. لکه چې ووایی قسم په خدای چې پرون دخالد کورته نه وتلی وم په داسې حال کښې چې د احمد کورته نه وتلی وی او فکر کوي چې هغه دخالد کور دی.

ب : هغه قسم دی چې یوکار ته دارادې کولو په وخت کښې د عادت له مخې کېږي او اراده قوي بنکاره کوي دغه ډول قسمونه زموږ په ورځني ژوند کښې زیات استعمالېږي لکه چې وایو والله کارلرم، والله چې راځم، والله له لاسه مې کار نه کېږي.

د یمین لغوه حکم : خدای پاک قسم خوړونکی په دغه

د ول قسمونو نه نیسي ځکه چه فرمایئ ، لایواخذکم الله باللغوفی ایمانکم ؛ یعنې خدای تاسې په لغو قسمونو باندې نه نیسي .

۲- یمین منعقد : په راتلونکي وخت کښې دیوکار په کولو باندې قسم کولوته یمین منعقد وایئ ؛ مثلاً ووایو چه قسم په خدای چه سباته ډوډۍ نه خورم ، یا قسم په خدای چه سباته له کورڅخه نه راوځم .

دا ډول قسم په دریو برخوکښې څېړو :

۱- په شرعي واجباتو قسم خوړل لکه چه قسم خورونکی ووایئ ؛ په خدای قسم چه زه به نن دماسپښین لمونځ کوم. ځرنګه چه دماسپښین لمونځ اداکول د قسم خوړلو نه پرته هم فرض اولازم دي نو قسم خورونکي ته په کار دي چه په ادا کولوئ په خپل وخت کښې بېړه وکړي اوخپل قسم

یمین لغو : هغه قسم دی چه قسم خورونکی وربانديې نه پوهېږي اوبائې د عادت له مخې استعمالوي. ۸۲

پوره کړي . خوکه لمونځ يئ ونکړ نو قسم يئ مات شو
اود قسم کفاره پرې لازمېږي .

۲- په شرعي منهياتو قسم خوړل ، لکه څوک چې ديو ناروا
کار دکولو لپاره قسم وخوري مثلاً ووايئ په خداى قسم
چې نن به خالد وژنم . اوحال داچې پرته له شرعي جواز نه
ديو مسلمان وژل ناروادي نوبايد د قسم د پوره کېدو کوښښ
ونکړي بلکه قسم مات کړي او کفاره يئ ورکړي . ځکه چې
ددغه ډول قسم په خلاف کښې خبردى .

۳- په مباحاتو قسم خوړل : لکه څوک چې ديو داسې کار کولو
قسم وخوري چې کول اونه کول يئ دواړه روا وي مثلاً ووايئ :
په خداى قسم چې نن به خالد کورم . څرنګه چې د خالد ليدل
يو مباح کار دى اوکه ونه ليدل شي هم پروا نشته خو د
قسم خوړونکي لپاره لازم دي چې خالد په ټاکلي وخت وکوري .
که چېرې د قسم په پوره کولو کښې تنبلي وکړي او په ټاکلي

وخت ئې ونه کوري نوکفاره پرې لازمیږي .

نوټ : تول هغه مثالونه چه وویل شو په مثبت حالت کښې د یمین څرګند ونه کوي . نوله بنوونکي څخه هیله کیږي چه د منفي حالت مثالونه ئې هم زده کوونکوته بیان کړي .

د یمین (قسم خوړلو) کفاره

کفاره هغه جزا ده چه په قسم خوړونکي لازمیږي، هر کله چه څوك د یو کار کولو لپاره د خدائ په نوم قسم وخوري، خوهغه سرته ونه رسوي نوکفاره پرې لازمیږي . کفاره د خدائ د نوم د عزّت او درناوی په خاطر وي . کفاره په دې ډول ده .

۱ـ د لسو تنو مسکینانو مړول .

۲ـ یا لس تنه مسکینان په جامه پټول .

۳ـ یا د یو غلام (مریئ) آزادول .

په پور تنیو د ریو عملونو کښې چه هریو د قسم خوړونکي له لاسه

پوره شو نو غاړه يې خلاصيږي ، خوکه د هيڅ کوم يو وسه يې نه وي نو بيا به د ړې وړې پرله پسې روژې ونيسي ځکه چه پاک خدای فرمايي :

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهٗ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ ۱۰)

يعنی خدای تاسې په چټي قسمونو نه نيسي ، خو د هغو قسمونو په ماتولو مونيسي چه د زړه له کومې مو کلک کړي وي ، نو د ماتولو کفاره يې د لسو مسکينانو مړول دي په هغو متوسطو خوړو چه خپل اهل او کورليږ ته يې ورکوئ يا يې پټول دي او يا د غلام (مړئ) ازادول دي . نوکه چا هيڅ کوم يو له دغو څخه نشو موندلاے

۱ـ دمايدة سورة ۸۸ ايت .

نو دري ورځې (پرله پسې) دې روژې ونيسي.

همدا راز د کفارې په باب د رسول الله (ص) حديث دی چې عبدالرحمٰن بن سمره ته يې وفرمايل: ای د سمرې زويه عبدالرحمانه!! امارت مه غواړه ځکه چې غوښتل شوی امارت يواځې هماغه غوښتونکي ته پريږدم، او که بې له غوښتنې چا ته امارت ورکړم نو زما ملګرتيا او مرسته هم ورسره نشته. که په څه شي قسم وخورې خو دهغه پرخلاف خير ښيګڼه وينې نو په ښيګڼې پسې ځه، او په قسم د ختلو کفاره ورکړه.

تمرین

۱- یمین څه معنی لري ؟
۲- یمین څه ته ویل کېږي ؟
۳- د قسم شرطونه کوم دي ؟
۴- یمین په څو ډوله دی ؟
۵- څوك چې قسم پوره نکړي څه به کوي ؟
۶- په څه شي قسم نه کېږي ؟
۷- کفّاره څه شی دی ؟
۸- کفّاره څه وخت لازمېږي ؟
۹- د کفّارې ورکولو څخه مقصد څه دی ؟
۱۰- کفّاره چاته ورکول کېږي ؟
۱۱- د یمین لغو ډولونه د مثالونو سره وواياست .
۱۲- د کفّارې په باب موکوم ايت او حديث ياددی ؟

احادیثو حافظ ؤ اود شپزو لکو (۶۰۰۰۰۰) حدیثونو څخه یئ چه دده په یادوو ، معتبر احادیث د جامع بخاري په کتاب کښې ولیکل.

د جامع بخاري کتاب د امام نوويؒ په قول تقریباً (۷۲۷۵) احادیث لري ، مګر د حافظ ابن حجر په قول (۷۳۹۷) حدیثونه لري چه د فصلونو شمېر یئ تقریباً (۵۴۵۰) بابونوته رسېږي.

هرکله به چا امام بخاري غوښتل چه په جامع بخاري کښې کوم حدیث ولیکي ، نو د حدیث په اسنادو کښې پر تحقیق کولو برسېره به یئ دشپې له خوا استخاره کوله ، بیا به یئ د حدیث په هکله د مطلوبې نتیجې تر لاسه کولو وروسته غسل اودوه رکعته نفل لمونځ وکړ . بیا به یو ځانته ځای کښې کښیناست او په ادب او پرا حترام سره به یئ هغه حدیث د بخاري شریف په کتاب کښې ولیکه .

امام بخاري یو عالم ، متقی ، او مجتهد سړی ؤ چه تقریباً نوی زره (۹۰۰۰۰) شاګردان یئ درلودل . وایئ چه کله دوخت باچا

د امام بخاري څخه وغوښتل چه زامنوته مې زما په کور کښې درس ووايه نو امام بخاري ورته په ځواب کښې وويل چه زه دچا کورته د درس ورکولو دپاره نشم تلای بلکه خلك بايد د زده کړې دپاره زما کورته راشي .

له دې املې ورته پاچا په قهر شو او امام بخاري هم له بخارا څخه سمرقند ته لاړ او هلته يې د خرتنګ په قريه کښې استوګنه غوره کړه .

امام بخاري چه په ۱۹۴ هجري قمري کال د شنبې په ورځ په بخارا کښې زېږېدلی و د ۶۳ کلونو په عمر په ۲۵۶ هـ . ق کال د کمکي اختر په ورځ دماسپښين د لمانځه نه وروسته په خرتنګ کښې وفات او خاورو ته وسپارل شو .

۱- استخاره د خدای پاك څخه د استخارې په حديث سره خير غوښتلو ته وايې .
د استخارې حديث :

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْتَخِيرُ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ .... الخ الحديث .. ۹

AFGHANISTAN BOOK TRUST COMMITTEE

دینیات

دشپزم تولگی پاره

کال: ۱۳۶۶ هـ ش

دینیات

د شپږم ټولګي لپاره

کال : ۱۳۶۶ هـ.ش

د مضامینو فهرست

شمارہ	عنوان	مخ
۱-	لومړی فصل - وحي	۱
۲-	دوحي اقسام	۲
۳-	دحدیث تعریف	۳
۴-	دنبوي احادیثو مشهور کتابونه	۶
۵-	دوحي پیل	۱۶
۶-	دوحي ختم	۱۸
۷-	تمرین	۲۰
۸-	دویم فصل - دتلاوت سجدې	۲۲
۹-	دتلاوت د سجدو جدول	۲۴
۱۰-	دتلاوت د سجدې دادا کولو طریقه	۲۵

شماره	عنوان	مخ
۱۱-	تمرین	۲۶
۱۲- دریم فصل	عقائید	۲۷
۱۳-	د خدای تعالیٰ صفتونه	۲۸
۱۴-	د خدای تعالیٰ فعلی صفتونه	۳۵
۱۵-	نبوّت	۳۷
۱۶-	تمرین	۴۱
۱۷- څلورم فصل-	فقهه	۴۲
۱۸-	دروژې اقسام	۴۳
۱۹-	دروژې فرضیت	۴۵
۲۰-	د تراویح لمونځ	۴۶
۲۱-	دروژې ګټې	۴۷
۲۲-	تمرین	۵۲
۲۳- پنځم فصل-	حج	۵۴

شمارہ	عنوان	مخ
۲۴-	دجج فرض کپدل	۵۵
۲۵-	دجج اقسام	۵۶
۲۶-	دجج کولو طریقه	۶۰
۲۷-	دجج ارکان ، واجبات اوسنتونه	۶۹
۲۸-	تمرین	۷۳
۲۹-	شپږم فصل - یمین یا قسم خوړل	۷۶
۳۰-	دیمین دثبوت دلیلونه	۷۸
۳۱-	د یمین شرطونه	۷۹
۳۲-	د یمین ډولونه	۸۰
۳۳-	د یمین ، قسم خوړلو کفاره	۸۴